# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٦ ګڼه / سه‌شنبه ۲۸ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۸ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰۷ می ۲۰۲٤ میلادي


## تېرکال د هوايي دهليزونو له لارې د ۱۴۵ ميليونو ډالرو صادرات شوي



د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې تېر لمريز کال د هوايي دهليزونو له لارې د ۱۴۵ ميليونه ډالرو په ارزښت صادرات شوي دي. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې د هوايي دهلېزونو له لارې د افغانستان صادرات د ۱۴۵ ميليونو ډالرو په ارزښت ترسره شوي چې ټولټال ۲۷۰۰ ټنو ته رسېدل.

د دغه وزارت وياند وايي، دېرى صادرات د هوايي ... ۳مخ


# افغانستان او فلسطين ته د اسلامي همکاريو سازمان د ناستې ممکنه ګټې




شریعت: د اسلامي همکاريو د سازمان سرمشريزه ناسته ورمه ورځ ناوخته پای ته ورسېده. د اسلامي همکاريو سازمان هر درې کاله وروسته د اسلامي هېوادونو د استازي ترمنځ ناسته کوي چې د ورمې ورځې ناسته يې ۱۵مه کېده او د افريقا لويې وچې په سويل( د ګامبيا هېواد پلازمېنه بانجول) کې چمتو شوې وه.

ددغې ناستې د مشرۍ ويار د ګامبيا له ولسمشر (ادامه بارو) سره و. نوموړي په خپله پيليزه وينا کې د دې غونډې پر عمده موضوعاتو بحث وکړ. بارو په خپلو خبرو کې د فلسطين پر اوسني ناورين، اسلامي امت ته ورپېښې ننګونې، د اسلامي هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو پر پياوړتيا، د اسلامي هېوادونو ترمنځ تشې - ورانپوهاوی او نور موضوعات وشنل. بارو وويل چې اسلامي هېوادونه بايد د فلسطين موضوع خپله فريضه وګڼي او هلته د روان وحشت مخه ډب کړي. ۳مخ

## بدخشان مرستيال والي؛ د اسلامي امارت پر وړاندې د بدخشي ولسونو پاڅون حقيقت نه لري



د بدخشان مرستيال والي قاري امين الله له رسنيو سره په خبرو کې ويلي چې په بدخشان کې د اسلامي امارت پر وړاندې کوم پاڅون نه دی رامنځته او د يادې پېښې اړوند خبرونه حقيقت نه لري.

قاري امين الله ويلي چې په درايم او ارګو ولسواليو کې د ځوانانو او مجاهدينو ترمنځ ورانپوهاوی رامنځته شوی و چې د سپين ږيرو په منځګړيتوب ياده شخړه هواره شوې.

بل خوا د درايم ولسوال مولوي اعجاز الحق نبي زاده ويلي چې ددې ولسوالۍ په ګڼو سيمو کې لا هم د کوکنارو د اړولو کمپاين روان دی.

د ښاغلي نبي زاده په قول، ددې ولسوالۍ ولسونو د کوکنارو ... ۳مخ

## شيخ شهاب الدين دلاور : کادرهای مسلکی ما می توانند با بازگشت شان درآبادانی کشور سهم بگیرند

سرپرست وزارت معادن و پتروليم در ديدار با وزير مخابرات و تکنالوژی اداره پيشين گفت افغانستان خانهٔ همه افغان‌هاست و همه کادرهای مسلکی و



با تجربه ما می توانند با بازگشت شان در آبادانی کشور سهم بگيرند.

دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پتروليم ديروز با نشر اين خبر گفته است که شيخ‌الحديث شهاب‌الدين دلاور سرپرست وزارت معادن و پتروليم با اميرزی سنگين وزير مخابرات و تکنالوژی معلوماتی و گل رحمان قاضی رئيس کميسيون نظارت بر تطبيق قانون اساسی حکومت... ص۳

## ننګرهار کې د انجې کرکيله زياته شوې

ننګرهار کې د بزګرانو اقتصادي پياوړتيا په موخه د انجې طبي بوټي ترويج پيل شوی. د مسوولينو په خبره د دغه ولايت په شپږو ولسواليو کې د بزګرانو اقتصادي پياوړتيا په موخه د انجې بوټي کر او ترويج پيل شوی دی. اوس مهال د ننګرهار په بهسود، سره رود، ګوشتې، حسارک، کوټ او هسکې مېنې ولسواليو کې پر څه باندې ۴۷ جريبه ځمکه باندې انجه کرل شوې ده. انجه طبي بوټی دی، چې د درملو په ډېرو ډولونو کې ترې ګټه کې پورته کېږي. د کروندګرو په وينا اوسنيو بازارونو کې د يو کيلو انجو بيه له لسو زرو څخه تر ۱۵ زره افغانيو پورې پلور کېږي.

## اسلامي امارت او بريالی متوازن سياست!


۲


## تأکيد علما بر تحکيم وحدت بين مسلمانان کشور


۲


### سرمقاله

## تر بهرنۍ دښمنۍ کورنۍ بدي ډېره خطرناکه وي

وايي هغه تبر چې ونه پرې کوي، لاستی يې له همدغې ونې جوړ وي. ليرې نه ځو فقط د خپل هېواد تېرې يوې پېړۍ تاريخ ته ځو پاڼې سرسري اړوو، هلته به ولولو چې څرنګه په يوه پېړۍ کې د نړۍ دريو خورا سترو نظامي زبر ځواکونو پر موږ يرغلونه او بريدونه کړي، موږ يې ځورولي، کړولي او دادی اوس يې د هند له باچايي د نړۍ پريوه وروسته پاتې اوبې وزله ملت بدل کړي يو!

د دغو ناخوالو واقعي اسباب او علتونه څه وو؟ ځواب زښته لنډ او ساده دی: يوازې خپل منځي اختلاف، او هغه داسې چې انګريزان د تيمورشا د زامنو خپل منځي لانجو راوستل، شورويان د خلق او پرچم ډلو اختلاف او صليبيان د طالبانو او شمالي ټلوالې د دښمنۍ په نتيجه کې. يا په بل عبارت انګريزان شاشجاع راوستل، شورويان پرچميانو او صليبيان د شمالي ټلوالې په دعوت او ملګرتيا راغلل او د همدوی په مرسته يې شل کاله زموږ پر هېواد واکمني وکړه. بې له شکه چې د يو قوم خپل منځي اختلاف، اخ و ډب او جنجالونه همدغه شان پايلې لري، هېوادونه پکې ويجاړېږي، ولسونه پکې خوارېږي او ډېره لويه بدمرغي او ذلت پرې تپل کيږي. دا بالکل يوه متفقه، ثابته او مسلمه قاعده ده او هيڅکله بدلون نه مومي، ځکه خو هوښياران ټينګار کوي چې ترهرڅه لومړی خپل کور او خپل صفونه متحد کړئ او باوري اوسئ چې ترڅو مو څرى له کوره نه وي، پردي به هيڅکله ستاسې د کور وراوکړکۍ سره ونه پېژني. په همدې اساس بيا دا بحث هم خامخا مطرح کېدی شي چې ښه نو هغه کومې لارې چارې دي چې په کور دننه خپل منځي وحدت او ملي يووالی تأمينوي او له پورتنيو خطرناکو پايلو مو ژغورلی شي؟ دا هم فقط ايکې يوه لار لري چې عدالت يې بولي. همدا عدالت دی چې حکومتونوته ثبات ورکوي او دوام يې تضمينوي. دا چې اوس پر ګران هېواد د اسلامي امارت واکمني ده او په عمومي توګه زياتره چارواکي ديني علماء او مجاهدين دي نو لازمه ده چې هيڅکله د عدالت مفهوم له ياده ونه باسي او باوري اوسي چې يوازې له همدې لارې کولی شي په ټول هېواد کې د نظام ستنې محکمې، ملي وحدت ټينګ او حکومت ته ثبات او دوام وبښي. راځئ ټول له خپلو ځاني هوسونو، ذوقونو او شخصي ګټو تېر او پوره اخلاص، ايمانداری او صداقت سره د خپلو ځورېدلو خلکو خدمت ته ملاوتړو. همدا هغه يوازنۍ لاره ده چې که پرې ټينګ شو بيا به هيڅ بهرنی يرغلګر زموږ منځ ته د راتلو کومه لار پيدا نه کړي او موږ به د دنيا او آخرت برى او سرلوړي ترلاسه کړو.


## تېرکال د شاوخوا ۱۸۰ زرو ټنو قاچاقي توکو مخنيوی شوی




ماليې وزارت په يوه خبرپاڼه کې ويلي چې په تېر ۱۴۰۲ کال کې د ۱۷۹ ټنو توکو د قاچاق مخه نيول شوې او په تړاو يې يو شمېر قاچاقبران هم نيول شوي دي.

ددغه وزارت په قول، ګمرکونو کې د مهمو اسانتياوو په رامنځته کولو، له فساد سره پر مبارزې او د زيرکو برېښنايي وسايلو په نصب سره د منعه شويو او قاچاقي توکو مخه ډب شوې ده. ۲مخ

## محمد سهيل شاهين با مدير بنيانگذار بيت الامانه و رئيس بنياد صلح ساساکاوا ديدار کرد



محمد سهيل شاهين، رئيس دفتر سياسی امارت اسلامی افغانستان در دوحه با مدير بنيانگذار بيت الامانه و رئيس بنياد صلح ساساکاوا ديدار کرده است.

شاهين در صفحه‌ای اکس‌اش نوشته است (از ملاقات با داکتر عبدالرزاق احمد، مدير بنيانگذار بيت الامانه، يک اتاق فکر سياسی در کوالالمپور و يک شخصيت علمی شناخته شده و داکتر آتسوشی سونامی، رئيس بنياد صلح ساساکاوا، خوشحالم.)

او می‌افزايد که آنان در مورد موضوعات مختلف از جمله نياز به کمک‌های بشردوستانه بيشتر، ايجاد فرصت‌های شغلی، آموزش، برنامه‌های ظرفيت سازی، پروژه‌های توسعه يی در کشور بحث کردند.

هم‌چنان به گفته‌ی محمد سهيل شاهين؛ در اين ديدار، دو طرف بر ادامه ديدارهای دوجانبه در زمان آينده نيز تأکيد کردند.

## د کندهار –سپين بولدک ريل پټلۍ سروې ترسره شوه




د اوسپنې پټلۍ ملي اداره وايي، چې د دغې ادارې تخنيکي پلاوي او د کندهار ولايت سيمه‌ييزو چارواکو له لوري د کندهار–سپين بولدک ريل پټلۍ پروژې لومړنۍ سروې ترسره شوه. د يادې ادارې په وينا؛ دغه پروژه ۹۶کيلومتره اوږدوالی لري، چې کندهار ښار له سپين بولدک ولسوالۍ سره نښلوي.

# اهمیت قلم در بقای بشر

احمد

روز قلم روز بزرگداست از فرهنگ وهنر است، زیرا با تجلیل از این روز نه تنها از ارزش های علمی، فرهنگی و هنری یاد آور می شویم، بلکه جا دارد از اساتید فرهیخته و گرامی و اهل قلم که وجود شان موجب توسعه، انکشـــاف، شگوفایی و پیشرفت عرصه های مختلف در کشور شده است نیز یاد آوری کنیم و این روز گرامی را برای شان مبارک باد گوییم.

بنابر اهمیـــت وارزش این روز ۱۷ ثور را بـــرای ارج نهادن به اهل قلم؛ نویســـندگان، مترجمان، منتقدان، پژوهشگران و .... روز قلم مسما کرده اند.

زیرا نوشـــتن ویا نوشـــتار یکی از بزرگترین اختراعات تاریخ بشر است که تاریخ آن بر می گردد به بیش از بیســـت هزار ســـال قبل از امروزوبه قضاوت تاریخ ســـومری ها نخســـتین کســـانی بودند که خط را اختراع کردند. گفته می شـــود که پیشینیان برای نوشتن از سنگ، چوب، پوست حیوانات، برگ درختان، اســـتخوان، موم، ابریشم، پنبه استفاده می کردند. در طول تاریخ، بســـیاری از افراد با استفاده از ابزارهای تیز چون سوزن، چاقو و... خطوطی را کندن کاری می کردند. بناً نخســـتین طرز نوشـــتن، نوشـــتن با عکس بود که تقریباً همه اقوام ابتدا از آن اســـتفاده می کردند. اســـتفاده از نشـــانه های تصویری در آثار باستانی شماری از کشور ها به خصوص مصر و چین نیز دیده شده است، اما ابداع، سومری ها بودند که به پیدایش خط میخی معروف اند.

با اختراع نوشتن بود که بشر توانست تاریخ را به یادگار بگذارد و دانسته های خود را محفوظ نگاه دارد . روی این اساس گفته می توانیم که قلم اهمیت و جایگاه ویژه یی در رشـــد و توسعه تمدن بشری دارد، زیرا این بشـــر بود که علوم عصری ودینی را در جهان به واســـطه قلم به آیندگان انتقال داد.

بزرگان دین نیزدر رابطه به اهمیت قلم گفته اند: «بیان دو گونه است؛ بیان زبان و بیان قلم. بیان زبان، با گذشـــت زمان کهنه شـــده و از بین می‌رود، ولی بیان قلم تا ابد باقی است

**برای معرفی جایگاه قلم در اسلام تنها کافی است که این آیه را مطرح کنیم؛** ترجمه: {سوگند به قلم و آنچه می نویسند.}

اما جا دارد که از روش رســـول مقبول اســـلام حضرت محمد مصطفی {ص} پیرامون اهمیت خواندن ونوشـــتن نیز در این نوشـــته یاد آوری نماییم .

پیـــا مبر بزرگوار اســـلام {ص} پـــس از پایان برخی جنگ‌ها، دســـتور می‌فرمود: اســـیرانی که به ده نفر از مســـلمان خواندن و نوشتن بیاموزند، آزاد شـــوند. این عمل نشـــان می دهد که جایگاه قلم، خواندن و نوشتن به چه میزان در اسلام اهمیت دارد. بنابراین انتخاب یک روز از تاریخ به نام روز قلم عملی صحیح و پســـندیده است که باید نسل جوان که آینده ســـازان کشـــور اند از اهمیت ارزش و ویژگی های قلم وقلم بدست تان آگاه شوند.

# تأکید علما بر تحکیم وحدت بین‌مسلمانان کشور

داوود ناظری

در مراســـم های جداگانه گرامیداشت سالروز شهادت امام جعفر صادق در برچی، علمای شـــیعه و سنی تأکید کردند امامان دینی و ائمه اربعه بین شان هیچ مشکل وجود نداشته بلکه روابط حسنه و همکاری دایمی بین آنها برقرار بوده؛ پس چرا امروز پیروان شان یکپارچه نباشند. مراسمی که در نما رسانه توسط نمایندگی دفتر آیت الله یعقوبی برگزار شده بود، صدها تن از علما و فرهنگیان تسنن و تشیع حضور داشتند و تعداد شان سخنرانی کردند.

**مولوی محمد ابراهیم بارکزی رئیس شـــورای علمای شرق کابل گفت،** احترام و روابط خاص بین امام ابوحنیفه، امام جعفر صادق وســـایر امامان برقرار بود و آنها با همکاری همدیگر به شبهات و سوالات مردم جواب می دادند. به گفته ایشـــان نزدیک ترین دیدگاه بین مذهب جعفری و حنفی وجود دارد که می‌تواند محور وحدت باشد. ایشان تأکید کرد که ما مسلمانان به عنوان پیروان امام اعظم و امام صادق به گونه رفتار کنیم که سبب گرایش غیرمسلمانان به دین اسلام گردد، نه سبب فرار و بیزاری آنان از دین اسلام.

**مولوی دکتر محمد عثمان روحانی در این مراسم گفت،** همانگونه که از و جایگاه علمی امام اعظم درمدارس دینی اهل تشیع گرامیداشت می‌شود از مقام و جایگاه امام صادق نیز باید در مدارس و در بین اهل تسنن گرامیداشت شود.

**محمد اکبری معاون شورای علمای شیعه کشور نیز در این مراسم گفت:** علما و فرهنگیان تشیع و تسنن باید در کنار همدیگرایستاد باشند و بجای پرداختن به اختلافات جزئی، شبهات دشمنان را که از طریق رسانه ها و شبکه های مجازی حواله مسلمانان می شود؛ پاسخ دهند. آقای اکبری گفت بهترین شـــرایط برای تحکیم اخوت و همدلی فراهم شده و باید مسلمانان کشـــور برای همه جهان اسلام الگو و نمونه باشد همان‌گونه که در جهاد و دفاع از دین الگو است.

**حجت الاسلام مظفری از دیگر سخنرانان این مراسم گفت،** بزرگان دینی در سخت ترین شرایط علوم بشری و انسانی را گسترش داد که توسط شاگردان امام جعفر صادق در سراسر جهان از طریق مناظره و تدریس پخش گردید. به گفته وی بیشـــتر حوزات علمیه و دانشـــگاه های اسلامی و غیر اســـلامی از منابع و کتب اسلامی استفاده می کنند که در اوایل اسلام تالیف شده بود.

در این مراســـم پیام آیت الله یعقوبی توســـط حجت الاسلام حسینی قرائت گردید. در این پیام نیز مسلمانان به اخوت و برادری دعوت شده بود.

# اسلامي امارت او بريالی متوازن سياست!

م حماد شيرزاد

اسلامي امارت د خپل حکومت او نظام له پيله خپله بهرنۍ تګلاره او پاليســـي ډېره روښانه او واضحه کړې او هر وخت يې ټولو هېوادونو ته د متوازن سياست او ديپلوماتيکو اړيکو پاللو ډاډګېرنه ورکړې او تل خپلې دغې پاليسۍ ته ژمن پاتې شـــوی، چې په وروســـتيو کې يې نتيجه ډېره مثمره وه او ان شاءالله هيله ده چې لا به هم د سياست په ډګر کې غښتلې او پرمختللې اړيکې ولري.

يو وخت و، چې نړۍ ټوله په يوه خوله وه ، طالبان/ اســـلامي امارت يې ترهګره ډله او د نړۍ لپاره خطرناکه بلله، د اړيکو پالل ورســـره نامشروع او راشه درشـــه او يا هم رابطه ورسره بيخي ناشـــونې وه، خو د دوحې له مذاکراتو وروســـته کله چې پخپله د سيمې هېوادونو او بيا نړۍ وليدل، چې افغانان ترهګـــر نه؛ بلکې د خپل هيواد د مشـــروعې دفاع په خاطر جنګ او جګړې ته مجبور شـــوي، د مينې، ســـولې او امن خلک دي، هماغـــه و چې د بېلابېلو اړخونـــو ذهنونو تغير کولو، مذاکرات کامياب شول، اسلامي امارت د ګران هېواد د حکومـــت واکې په لاس کې واخيســـتې، د هېواد دننه يې مينه وپاشـــله، هېڅوک يې له لاس ازار نشول او يو سپېڅلی نظام يې قايم کړ.

لـــه پيله خو د زياتره هېوادونو اړيکو تـــه کومه ليوالتيا نه وه، خو د اســـلامي امارت د غوره سياســـت، بهرنۍ پاليسۍ او ديپلوماتيکو اړيکو له امله د نـــړۍ بېلابېل هېوادونه مجبور شول او خپلې اړيکې يې ورځ تر بلې د رغېدا پر لور بوتلې، د همدې بريالي سياســـت په برکت اسلامي امارت د نړۍ بېلابېلو مهمو کنفرانســـونو کې ګډونونه ترســـره کړل، خپله داعيه او بهرنۍ تګلاره يې روښـــانه کړه او دا يې وويل چې سياســـت او اړيکې مو تل له ټولو ســـره په متقابل احترام او سياست ولاړې دي.

هوکې؛ د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونو او نورو قونسلګريو ته د اسلامي امارت استازي، سفيران او ديپلوماتان ومنل شول، د نړۍ زياتره هېوادونو کې د قونسلي او ســـفارتي خدمات لا ښه روان شـــول، افغانستان ته ورځ تر بلې د بهرنيو هېوادونو د لـــوړې کچې چارواکي راغلل، تر دې چې چين خپل ســـفير رسماً معرفي کړ، د افغانستان ســـفير يې په چين کې رسماً ومنلو، روســـيه، ازبيکستان، ترکمنســـتان، ايـــران، ترکيه، متحده عربي امـــارات، مصر، ترکيـــه، ماليزيا او نورو ډېرو هېوادونو ته د اســـلامي امارت سفيران او نور ديپلوماتان لاړل، اړيکو پرمختګ وموند او د افغانستان لپاره يې د ګټو پيلامه وکړه.

په هر حال په دې وروســـتيو کې سياسي پرمختګونه لا ډېر شـــوي، همدا ټېرو دوو اوونيو کې افغانستان د ازبيکستان، ماليزيا، روسيې، قزاقستان او نورو هېوادونو د لوړپوړو دولتي چارواکو، چې د ځينې هيوادونو د لومړي وزير مرســـتيال، مهم اســـتازي، د کليدي وزارتونو اســـتازي، د لومړي وزير سلاکارانو په شـــمول ګڼو مهمو چارواکو کوربه و، دلته يې بهرنيو، داخله او نورو وزارتونو له اســـتازو سره خبرې اترې وکړې، تر دې چې د رئيس الوزراء د مرستيالانو او نورو ګڼو لوړپوړو امارتي مســـؤلينو ســـره ليدنې وکړې، چې ډېرې د هيله مندۍ او هوسايني وړ وې.

همدا راز د اســـلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت استازو د اسلامي همکاريو سازمان په رســـمي بلنه د ياد سازمان په غونډه کې چې د مې په ۴مه او ۵مه ګامبيا کې ګډون ترسره او هلته يې د لوړپوړو د مهمو غړو هېوادونو له اســـتازو سره ليدنې کتنې ترسره شوې.

د اســـلامي امارت بهرنيو چارو وزارت تل هڅه کړې، چې د خپلې پاليسۍ او متوازن سياست له مخې له ټولو جهتونو سره غوره اړيکې وپالي، د همدې لپاره په بېلابېلو هېوادونو کې د افغان دولت ســـفارتونو او استازوليو کې ديپلوماتيک چارواکـــي ګمارلي، تر څـــو اړيکې لا پر مـــخ لاړې او په متقابل احترام وپالل شي.

# بدلمني او د هغې ناوړه اغېزې

ترتيب او ژباړه : محمدعلي عظمت

۴۱ – دا کار د انســـان په زړه کې ډار پيداکـــوي نو تل به په ويره کې وي.

۴۲– دا مردود عمل د انسان زړه د استقامت له دايرې باسي .

۴۳ – زنا د هغوی بصيرت او پوهه له منځه وړي .

۴۴– دا پليت عمل انسان د شيطان په واک کې ورکوي .

۴۵– د بدلمنه انســـان ابرو ، عزت او احتـــرام له منځه لاړ شي .

۴۶– د دې کوونکی انســـان به بې عزته او په بدو الفاظو به يادېږي .

۴۷ – د دوی پـــه نفس داډ او باور له منځه ځي، نو ځکه يې د نيکيو او ښو کارونو خواته نه تشويقوي .

۴۸– دوی د خپل ځان په مقابل کې له دښـــمن سره مرسته کوي .

۴۹– دا عمـــل د هغوی غيرت له منځه وړي، بې غيرته کوي يې .

۵۰– ياد عمل د کورنيو ترمنځ بـــې اتفاقي، جګړې او قتل پېښوي .

۵۱– دا کار يې د اعمالو خوند او برکت له منځه وړي .

۵۲– د دې خبيث کار؛ کوونکي انســـانان د پرېښتو له دعا څخه محرومېږي .

۵۳– زنا کاران به تل شرمېدلي او پښېمانه وي .

۵۴– زانيان به په نا اشنا رنځ اخته کېږي لکه [ايډز] .

۵۵– د دوی داعمـــل تـــر اوو پېړيو د انســـان د لعنت لامل ګرځي ، لکه: د امام احمد په مسند کې اشاره ورته شوې ده : ( څوک چې ګناه کوي، نو په دې ســـره الله ج غوسه کېږي او کله چې الله ج په غوســـه شي تر اوومې پيړۍ به انسانان لعنت وربانديږ وايي) .

۵۶– په دوی باندې هميشنی بېوزلي او غريبي راځي .

۵۷– د دوی واده لرونکي په دنيا کې سنګســـارېږي، خو که مجرد وي بيا به په درو وهل کېږي .

۵۸– د دوی ناموس ته به زيان اوړي.

۵۹– د دې عمل کوونکي به لـــه دنيوي او اخروي تاوانونو سره مخ کېږي .

۶۰– زناکاره انسانان به له دايمي ناروغۍ او خواشينۍ سره مخ وي.

# اسلام کې د بشر حقونه او ...

او د درېيمې نړۍ له هېوادونو د دوی د غوښتنو تر شا پرته فلسفه کومه ده؟

په دنيا کې دوه ډوله قوانين شته: يو الهي او بل وضعي قوانين. الهي مانا هغه قوانين چې زمونږ او ستاسو خالق را استولي وي. وضعي قوانين هغه دي چې د انسانانو له خوا جوړ شوي وي. څرګنده ده چې الهي قوانين بشـــپړ او د ټولو انســـانانو حقوق پکـــې خوندي دي او وضعي قوانين نيمګړي او ډېری وخت د محدودو انسانانو ګټې تضمينوي.

خو د نړۍ زبرځواک هېوادونه غواړي پر نړۍ هغه قانون نافذ کړي چې همدوی د خپلو ګټو د خونديتوب لپاره جوړ کړی او څوک چې ددوی له جوړکړي چوکاټ بهر بل قانون تطبيقوي پر هغوی ډول ـ ډول فشارونه راوړي، په دې توګه دوی غواړي الهي قوانيـــن معطل او خپل قوانين تعميل کړي ترڅو پر نړۍ راج وچلوي.

ددې هـــدف لپاره ملګري ملتونه د دغو ځواکمنو هيوادونو نرم لاسونه دي چې د دوی ددې هدف د تحقق لپاره کار کوي.

اسلامي امارت لپاره د بشر حقونو چوکاټ هغه اصول دي چې الله تعالی د ټولنيز نظام لپاره ټاکلي دي او د اسلامي حکومت مسؤلين يې په تطبيق مکلف کړي دي.

هغه د دين له حفاظت وروسته پنځه اصول دي:

لومړی؛ د نفس خونديتوب: مانا څوک به ناحقه نه وژنې.

دويم؛ د نســـل خونديتوب: مانا دا چې د نسل د تداوم لپاره به يوازې له مشروع لارې ګټه اخلې

درېيم؛ د عقل خونديتوب: مانا داسې څه به نه کاروې چې ستا عقل ته زيانمن او له نارمل حالته دې وباسي.

څلورم؛ د مال خونديتوب: مانا د بل انســـان پر مال او شتمني به تېری نه کوې.

پنځم؛ د پت خونديتوب: مانا د بل انسان پت به خوندي کوې او پر حريم به يې تېری نه کوې.

د دغو اصولو په نقض ســـره اســـلام خپلې سزاګانې ټاکلي او د اســـلامي امارت د بشـــري حقونو چوکاټ په همدغو پنځو (مقاصد شريعه) کې راټول او قلمبند شوی.

پورتني اصول د حکومتولۍ او ټولنيز ژوندانه لپاره بنسټيز دي. ددغو اصولو په ماتولو الله تعالی خپلې سزاوې ټاکلي او په دې کې نه ملګرو ملتونو، نه بل سازمان، نه امريکا، نه بريتانيا او نه نورو سازمانونو ته د مداخلې اجازه شته. دا الله ټاکلي، حد او قصاص دې ته ظالمانه، ناوړه، د عدالت خلاف ويل د اسلام پر اساساتو نيوکه ده چې د افغانستان وګړو ته د منلو نه دي.

د ملګرو ملتونو راپور کې يوه پېښـــه راوړي چې غزني کې يو څوک اعدام شـــوی، حالنکه همدغه مجـــرم د يوې کورنۍ څلور تنه حلال کـــړي او څاه ته يې اچولي. د يادو څلورو تنو مظلوميت ته نه ګوري او د يوه مجرم پر مرګ غوغا جوړوي.

اسلامي نظام کې د حدودو تطبيق اصل دی او افغانان اسلامي نظـــام غواړي. هغه نظام ته چـــې حدودالله پکې پلې نه وي، اســـلامي ورته ويلی نه شو. زمونږ سرښـــندنې د همدې نظام لپاره وې. ملګـــرو ملتونو ته په هېڅ صـــورت اجازه نه ورکوو چې د اسلام پر بنسټيزو اصول نيوکه وکړي، هغوی ته به خپل ارزښتونه مقدم وي. دې ته سارايي محکمې او نور ويل غندو، مـــونږ به د الله ج حدود د هغه تعالی پر ځمکه پلې کوو، دا مو هم مسووليت او هم د همدې رسالت اداينې ته راستول شوي يـــو. عدالت هغه وخت قايمېږي چـــې همدغه حدود وضع شي. که نه تاســـو د نيويارک او واشنتګن حالت وګورئ چې هره ورځ پر زرګونو خلکو تېری کيږي. دوی خو د وســـايلو په زور کنټرول راوستی. اسلام چې کوم اصول ټاکلي، که دا تطبيق شي، بيا کامرې او وسايلو ته اړتيانشته، هغه مهال به مصنوعي نه، حقيقي امن وي.

د بيان ازادي

د بيان د ازادۍ په اړه به ووايم چې يو د غرب د بيان ازادي ده او بل د اسلام. په غربي ازادۍ کې ته هر څه ويلی شې. د مشرانو پر وړاندې بې قيد او شرطه توهين او پر ارزښتونه نيوکه کولای شې؛ خو اســـلام د بيان ازادۍ ته يوه محدوده ټاکلې. ګورئ، اســـلام پيروانو ته اجازه ورکړې چې مسوول کې کومه تېروتنه ګورې نو هغه وروښـــيه؛ خو د بيان په ازادۍ کې لاندې اصول مراعتول اړين دي:

تبين او کره والی: مانا يو خبر چې ترڅو کره شوی نه وي نه به يې خپروې.

د الحجرات سورت شپږم او الاحزاب سورت اويايم آيتونه په دې اړه صراحت کوي.

شـــرعي نصوصو ته درناوی: معنا دا چې شريعت کوم احکام ټاکلي پر هغو به نيوکه نه کوې.

د الاحزاب سورت شپږ دېرشم آيت په دې اړه صراحت کوي.

د مشـــرانو درناوی: معنا دا چې که کوم مشـــر له اصولو اوړي نيوکه پرې کولی شـــې خو توهين به يې نه کوې، رسول (ص) يوه حديث شريف کې وايي: (( څوک چې د خپل مشر/باچا سپکاوی کوي، نو الله (ج) ب يې سپک کړي.))

بل د رواني امنيت د ساتنې مسله ده. مانا وړه پېښه به نه غټوې. دا د مدينې د منافقانو خاصيت و . دوی به چې وړه پېښه وليده نو شـــور به يې جوړ کړ. (د النساء سورت درې اتيايم ايت کې صراحت شوی.)

د يو چا پر شخصي حريم به تېری نه کوې. (الحجرات سورت ۱۱ آيت وګورئ.)

دا هغـــه موارد دي چې په نظر کې بايد ونيول شـــي. نور دبيان ازادي هم شريعت او هم اسلامي امارت ورکړې ده.

**سمونه او اوډون: خالد افغان**

# تېرکال د شاوخوا ۱۸۰ زرو ټنو قاچاقي ...

پر همدې بنســـټ، د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنـــده څارنې ځيرکو کارکونکـــو، په تېرکال کې ګڼ بې کيفيته توکي نيولي دي.

ويل کيږي چې دغه توکي د کندهار، نيمروز، فراه، خوست، پکتيا، هرات، هلمند او ننګرهار ولايتونو په بېلابيلو ســـېمو کې نيول شـــوي چې ټولټال وزن يې ۱۷۸ زره او ۱۹۴ ټنو ته رســـيږي. په دغو توکو کې طبي، يوناني، خوراکي، نشه يي، ودانيز توکي او نور شـــامل دي. ددغو توکو د قاچاقولو اړوند يو شمېر کسان هم نيول شوي چې عدلي او قضايي ارګانونو ته ورپېژندل شوي دي.

د ماليې وزارت داډ ورکړی چې د ګمرکونو رياست ګرځنده ډلګۍ هېواد ته د قاچاقېدونکو توکو مخه نيسي او همداشان د هغـــو توکـــو د واردلـــو مخنيوی کـــوي چې پـــه کوردننه توليدېږي.

## د اسلامي امارت پر وړاندې د بدخشي ...

د نه کرلو ژمنه هم کړې ده.

د یادو ولسوالیو اوسېدونکو منلې چې دوی د حکومت پر ضد د ناوړه اقدام هڅه نه ده کړې. د درایم اوسېدونکو او مجاهدینو ترمنځ ورانپوهای د نشه یي توکو د مبارزې د منسوبینو له خوا د کوکنارو د اړولو پر سر پېښ شو.

یاده دې شي چې د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد هم تېره شپه په خپل ایکس لیکلي و چې د بدخشان پېښې ته د لوی درستیز قاري فصیح الدین فطرت په مشرۍ یو پلاوی استول شوی چې هلته اوسمهال حالت عادي دي.

## کادرهای مسلکی می توانند ...

پیشین در دفتر کارش دیدار کرد.

در این دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم،روی مسایل مختلف به ویژه وضعیت کنونی و امنیت سرتاسری، دست آوردهای امارت اسلامی طی بیش از دو سال گذشته و کار و فعالیت های وزارت معادن و پترولیم معلومات داد. اوگفت: (( افغانستان معادن بیشمار دارد و با فرصت هایی که اکنون داریم می توانیم کشور را به سوی توسعه و رشد اقتصادی سوق دهیم.))

سرپرست وزارت معادن و پترولیم همچنان در مورد قراردادهای معادن به خصوص مس عینک و عینک دوم، سمنت زنده‌جان هرات، شور اندام کندهار، جبل‌السراج، حوزه‌های نفت و گاز کشور و سایر قراردادهایی وزارت که پروسس آن صد فیصد داخل کشور خواهد بود، صحبت کرده گفت: ((افغانستان خانۀ همه افغان‌هاست و همه کادرهای مسلکی و با تجربه ما می توانند با بازگشت شان در آبادانی کشور سهیم گردیده تا زمینه بهترزندگی مرفه و آسودۀ را برای هموطنان خویش مهیاسازیم.))

امیرزی سنگین وزیر اسبق مخابرات گفت: واقعاً امارت اسلامی نه تنها ثبات و امنیت سرتاسری بلکه زمینه جدید را برای اشتغال و رشد سرمایه گذاری در افغانستان نیز فراهم نموده است.

او، از کار، فعالیت و دست‌آورده های وزارت معادن و پترولیم تمجیدکرد.

## تېرکال د هوايي دهلېزونو له لارې ...

ډکرونو له لارې هند، متحده عربي اماراتو، ترکيې، ايران، ازبيکستان، جرمني او کاناډا ته شوي دي. د سوداګرۍ او پانګونې خونه د هوايي دهلېزونو له لارې صادرات د اقتصادي ودې په برخه کې مهم بولي او ټينګار کوي چې د هوايي دهلېزونو له لارې د لېږد لګښتونه بايد کم شي. يو شمېر سوداګر د نړيوالو هوايي شرکتونو د الوتنو بېرته پيلېدل د هوايي دهلېزونو له لارې د صادراتو په زياتېدوکې مهم بولي.

## پرداخت بیش از ۱۱ میلیارد افغانی برای ...

شفاف است، حالا عریضه کردیم اسنادم را از ولایت کندز به ولایت کابل انتقال می‌دهم.»

وی از مسؤلین می‌خواهد تا حقوق معلولین را به وقت و زمانش بدهند تا به دیگران دست شان دراز نباشد.

**مرید خان باشنده ناحیه نهم کابل ۶ ساله بوده، دو پای اش در دوره قبلی مجاهدین فلج شده، او نیز با دل پر از درد بیان می‌دارد:»** در خانه ی ما مرمی خورد و پس از به هوش آمدنم، دیدم که هردو پایم فلج هستند، تقریباً ۷ سال می شود که حقوق معلولیت ام را می گیرم، سال قبل نصف حقوق ام را دادند، نصف دیگر اش را ندادند و معلولین قشر مظلوم است، نباید دیگر هم رنج ببینند.»

خانمی که باشنده چهار قلعه وزیر آباد که بیوه است می گوید:» شوهر و پسرم ۱۱ سال پیش شهید شده اند، دوسال حقوق شان را گرفتم، بعد از آن برایم نداده اند.

وی می گویند که طفل کوچک و وارث ندارد و آمده تا حقوقش را دریافت کند.

**وی گفت:»** حالتم خراب است، با نان و چای چاره سازی می کنم و از مسؤلین خواهان حقوق شوهر و پسرم هستم».

**در عین حال فیصل خاموش سخنگوی وزارت شهدا و معلولین گفت:»** این وزارت به شمول مرکز در تمام کشور برای ورثه شهدا، یتیمان، بیوه ها ومعلولین در بخش های مختلف کمک های نقدی، مساعدت، معاش ماهانه، آموزش حرفه و ساخت اعضای بدن مصنوعی در بخش صحت خدمات ارائه می کند. وی افزود که اصل مهم ما در جهت حل مشکلات و بهبود وضعیت اقتصادی آن طیف بزرگ است. در بخش معلولین و معیوبین یک مقدار ماهانه و مساعدت تعیین شده که برای تعدادی از معلولین ماهانه ۱۵ هزار، بعضی ها ۱۰ هزار و برای دیگران ۸ هزار، ۵ هزار، ۳ هزار و کمتر از ۳ هزار پرداخت می‌گردد.

**آقای خاموش اضافه کرد:»** بخش یتیم ها کتگوری بندی شده است، یتیم های امارت اسلامی شامل آنعده شهدا که بخاطر برقراری نظام اسلامی و حفاظت از آن شهید شده اند در نزد ما ثبت و راجستر گردیده اند، شهدای ملکی در دوطرف جانبین به اثر بمبارد ها شهید شده و در جنگ دخیل نبوده و یتیم های اشخاصیکه در نظام قبلی بودند، نیز در این وزارت ثبت و راجستر هستند که برای هر یتیم بدون فرق، تبعیض و سمت مبلغ ۲ هزار افغایی توزیع می‌گردد.

وی اشاره نمود که:» به اساس ترحم و شفقت بزرگان امارت اسلامی برای معلولین اداره قبلی مانند: پولیس، اردو، کماندو و قطعات ۰۱ نیز معاش و مساعدت ماهانه می شود و معلولین ملکی و مادر زاد نیز همرای ما ثبت و راجستر می باشند که یک اندازه معاش برای شان مقرر شده است.

**رئیس اطلاعات و آگاهی عامه و سخنگوی وزارت شهدا و معلولین تصریح کرد که:»** در افغانستان ۶ لک و ۱۴ هزار یتیم، بیوه، معلول و معیوب ثبت و راجستر می باشد که از آن جمله ۱ لک و ۸۰ هزار معلول، ۳ و نیم لک یتیم و ۹۰ هزار آن بیوه هستند. وی علاوه کرد که در سال گذشته به شمول مرکز ۱۱ میلیارد و ۱۰۰ میلیون افغانی برای ورثه شهدا، معلولین و بیوه ها از طریق بانک جهانی برای شان پرداخت شده و همچنان خانواده هایی بودند که تعداد یتیم هایش به ۲۵ تا ۲۹ تن می‌رسید، نظر به تعداد آنها ۵، ۶ و ۷ لک افغانی به گونه شفاف توزیع گردیده است.

وی خاطر نشان ساخت که تمامی معاش و مساعدت ها از بودجه ملی بوده و موسسات در این پروسه دخیل نبوده اند، البته موسسات جهانی و بنیاد های خیریه به اساس توافقنامه با این وزارت در بعضی ولایات برای ۱ لک و ۴۰ هزار خانواده موادخوراکی، غیر خوراکی و پول نقد در سال یک بار و دو بار توزیع کرده اند و همچنان برای تعدادی معلولین بخاطر کسب و کار از سوی آنان موترسایکل زرنج توزیع گردیده و دکان نیز ساخته شده است.

**نامبرده همچنان بیان داشت:»** تلاش های ما در راستای سیستم ورثه شهدا، معلولین، و بیوه ها و تبدیل شدن آن به سیستم الکترونیک جریان دارد تا تمامی آنها ثبت و راجستر سیستم شوند و زمینه آموزش حرفه از قبیل خیاطی، کمپیوتر، ترمیم موترسایکل، یخچال و برق مساعد شده و سعی داریم تا آنرا افزایش دهیم. وی برای طبقه ورثه شهدا و معلولین خطاب نموده و اطمینان داد که زمان جعل، تذویر و رشوت خوری تمام شده و به این نام دیگر به کسی مراجعه نکنند و اکنون برای مستحق واقعی بدون نظرداشت کدام طمعه رسیدگی می شود. وی از موسسات جهانی و بنیاد های خیریه خواست که یتیم، بیوه و معلول معیوب در افغانستان بسیار زیاد است و بالاترین ارقام را دارد، در خصوص رسیدگی بهتر با این قشر مظلوم در جهت کمک های نقدی، آموزش حرفه و مساعد ساختن زمینه کار با این وزارت همکاری های همه جانبه نمایند.

قابل یادهانیست که چندین دهه جنگ در افغانستان بر علاوه تاثیرات منفی در بخش های تعلیمی، صحی، فرهنگی، اقتصادی و اجتماعی؛ تعدادی کثیری از هموطنان ما جان های خود را از دست داده، تعدادی هم معلول و معیوب و شماری هم بی خانمان گردیده و در دیار غربت راه هجرت را در پیش گرفته اند.

**قیس قادری**

## توزیع تخم های اصلاح شده وکود ...

آژانس باخترگفت که دراین دور، دوصد دهقان از ولسوالی های اشکاشم و زیباک، هرکدام سه بوری تخم اصلاح شده ی بذری و دو نوع کودکیمیایی دریافت کردند.

دهقانان ازدریافت این مواد، استقبال کردند و آن را باعث رونق کشت و کار شان خواندند.

## دیدار هیأت ترکمنستانی از مصلای ...

حاکمان ترک‌تبار در این سر زمین، بناهای زیادی به یادگار مانده است که اکنون جزئی از افتخارات تاریخی دو ملت افغان _ ترک به شمار می‌روند.

مولوی متقی، همچنان تأکید بر گسترش فعالیت‌های فرهنگی کشور دوست ترکمنستان به ویژه، نقش این کشور در ترمیم و بازسازی بناهای تاریخی هرات شد.

در ادامه نوکر قلی اتاقلی اف رئیس صنعت و تجارت کشور ترکمنستان، از تقویت روابط فرهنگی و اقتصادی با افغانستان سخن زده و افزود که برای بازسازی بنا های تاریخی هرات از سوی کشور ترکمنستان همکاری خواهد شد.

هیأت اقتصادی ترکمنستان در سفر شان به هرات از برخی فابریکات تولیدی شهرک صنعتی نیز دیدن داشتند.

این هیأت که از چند روز به این‌سو در این ولایت بسر می‌برند به هدف تقویت روابط تجاری و فرهنگی میان کشور وارد هرات شده اند.

# افغان اعلانات

**دداوطلبۍ خبرواى:**

د دواطلبۍ ګڼه:خ.س.چ.ا.ش/ ۱۴۰۳/ پ.ک.د/ توکي-۲

د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، ټولو ليوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو د دې شرکت د اړتيا وړ د چاپ ماشينونو لپاره (۲) پايې (UPS) تدارک پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر ترلي/بند آفرونه د شرطپاڼې د شرايطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۳ کال د غبرګولي مياشتې تر (۱۹ مې) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عموي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمريت ته تسليم کړي. هېره دنه وي چې ناوخته او د بريښناليک له لارې رسېدلي آفرونه نه منل کيږي. همدارنګه د يادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمريت څخه او يا هم (Hadi.ahmadzai@ahsp.af او کاپي: mk.marwan@ahsp.af) برېښناليکونو ته د برېښناليک استولو له لارې تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي؛ د آفر تضمين د شرطپاڼې د شرايطو سره سم، د (۹۰،۰۰۰) افغانيو په ارزښت، په بانکي او يا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره يوځای وړاندې کړي. د يادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۳ کال د غبرګولي مياشتې په (۱۹ مه) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د کابل ښاروالۍ د اوومې ناحيې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، د غونډو په تالار کې نيول کيږي.

***

دداوطلبۍ خبرواى:

د دواطلبۍ ګڼه:خ.س.چ.ا.ش/ ۱۴۰۳/ پ.ک.د/ توکي-۱

د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، ټولو ليوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو د دې شرکت د اړتيا وړ د ۴۵ قلمه معلوماتي ټکنالوژۍ توکو او وسايلو تدارک پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر ترلي/بند آفرونه د شرطپاڼې د شرايطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۳ کال د غبرګولي مياشتې تر (۱۲ مې) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عموي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمريت ته تسليم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته او د بريښناليک له لارې رسېدلي آفرونه نه منل کيږي.

همدارنګه د يادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمريت څخه او يا هم (Hadi.ahmadzai@ahsp.af او کاپي: mk.marwan@ahsp.af) برېښناليکونو ته د برېښناليک استولو له لارې تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي؛ د آفر تضمين د شرطپاڼې د شرايطو سره سم، د (۱۱۰،۰۰۰) افغانيو په ارزښت، په بانکي او يا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره يوځای وړاندې کړي. د يادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۳ کال د غبرګولي مياشتې په (۱۲ مه) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د کابل ښاروالۍ د اوومې ناحيې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، د غونډو په تالار کې نيول کيږي.

***

**موضوع: نشراعلان ملکیت آمریت سروی هایدروکاربن های ولایت جوزجان**

ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل میاورد تا در جلسه آفرگشایی ملکیت آمریت سروی هایدرو کاربن های این وزارت به مساحت (۳۵ متر طول و ۶٫۷ متر عرض) واقع سمت جنوب بین مدیریت برق و مدیریت برمه کاری ولایت جوزجان که از طریق داوطلبی باز برای زمان طویل المدت به کرایه سپرده میشود اشتراک نمایند، بدینوسیله از تمام داوطلبان (اشخاص انفرادی و شرکت های تجارتی) واجد شرایط دعوت مینماید، تا درخواستی شان را جهت دریافت شرطنامه از آمریت اجناس و خدمات غیر مشورتی ریاست تدارکات الی تاریخ ۰۶ جوزا ۱۴۰۳ روز یکشنبه در بدل مبلغ ۱۰۰۰ افغانی پول غیر قابل بازگشت دریافت نموده و جلسه آفرگشایی بتاریخ ۰۷ جوزای ۱۴۰۳ روز دوشنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر در تالار جلسات ریاست تدارکات برگذار میشود. تضمین آفر به مبلغ ۵۰۰۰۰ پنجاه هزار افغانی بشکل گرنتی بانک میباشد.

***

**دعوت به داوطلبی**

نام پروژه: لات اول: تهیه و تدارک (۲۶) قلم روغنیات و فلتر باب و لات دوم:(۱۳) قلم تایر وسایط مورد ضرورت ریاست ساختمانی امور برق و فابریکه پایه سازی هودخیل ولایت کابل.

ریاست ساختمانی امور برق د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه و تدارک (۲۶) قلم روغنیات و فلتر باب و (۱۳) قلم تایر وسایط مورد ضرورت ریاست ساختمانی امور برق و فابریکه پایه سازی هودخیل ولایت کابل) دارای کود نمبر (ریاست ساختمانی امور برق /د افغانستان برشنا شرکت/۱۴۴۵/ داوطلبی باز ملی/ اجناس-۰۰۱) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت از مدیریت قراردادهای ریاست ساختمانی امور برق بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته بروز معین به مدیریت قراردادها، مدیریت عمومی تدارکات، تعمیر ریاست ساختمانی امور برق د افغانستان برشنا شرکت واقع واصل آباد، ناحیه هفتم، شهر کابل ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده والکترونیکی قابل پذیرش نبوده تضمین آفر به شکل بانک گرانتی (تضمین نامه بانکی) اخذ میگردد.

۱: تضمین آفر: برای لات اول مبلغ (۴۴,۰۰۰) چهل و چهار هزار افغانی و برای لات دوم مبلغ (۳۳,۰۰۰) سی وسه هزار افغانی.

۲: آفر گشایی: ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز چهار شنبه تاریخ ۰۹ /جوزا/۱۴۰۳

۳: آدرس و محل آفر گشایی: منزل اول اطاق کنفرانس ریاست ساختمانی امور برق.

٤: آدرس اداره: ریاست ساختمانی امور برق دافغانستان برشنا شرکت واقع واصل آباد ناحیه هفتم، شهرکابل

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید:

شماره تماس: ۰۷۲۹۱۹۵۹۱۲

آدرس الکترونیکی:

alireza.noormohammadi@dabs.af

***

**اطلاعیه فروش امتیاز لابراتوار**

محترم عبدالواسع فرزند حضرت مالک (الفا طبی لابراتوار) که قبلا ذریعه مکتوب شماره (۶۸۲۴۳۲) مورخ ۱۳۹۶/۰۱/۲۷ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ناحیه یازدهم شهر کابل افتتاح گردیده بود. اکنون طی درخواستی جداگانه به مقام محترم وزارت صحت عامه خواهان فروش امتیاز لابراتوار خویش را بالای محترم عبدالغفور فرزند محمد جمعه گردیده است که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.

موسسات و دوایر امارتی که در مورد لابراتوار فوق الذکر ادعا داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به‌ریاست محترم تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل میباشد. ۲۳۱

***

**اطلاعیه تغیراسم شفاخانه**

اسامی محترم دوکتور حبیب الله مومند فرزند عبدالخالق مالک شفاخانه معالجوی اریا ییان که قبلا ذریعه مکتوب شماره ۵۰۳۴۳۳ مورخ ۱۳۹۹/۱۰/۱۳ رسماً از طریق این اداره در مربوطات ولایت بلخ افتتاح گردیده اینک طی در خواستی به مقام محترم وزارت صحت عامه خواهان تغیر اسم (شفاخانه معالجوی ارياييان) خويش را به اسم (شفاخانه معالجوی آريانا مومند) گرديده که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده. موسسات و دواير دولتی که در مورد شفاخانه معالجوی مذکور ادعا داشته باشند از تاريخ نشر اعلان الی مدت ده يوم به وزارت صحت عامه آمريت عرضه خدمات بخش صدور جواز خصوصی مراجعه نموده در غير آن ادعای شان باطل ميباشد. ۹۴۸

***

**اطلاعیه فسخ جوازرهنمای معاملات**

اسامی محترم عبدالاحد فرزند عبدالحنان دارنده جواز نمبر (۳۷۵۷) مورخ ۱۴۰۰/۹/۶ متصدی رهنمای معاملات (اسلامی) واقع (گذر آب رسانی) ناحیه (۵)کابل جواز خویش را فسخ مینمایند که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام، وزارت عدلیه اطلاع دهند. ۹۶۰

***

**اعلان**

د عدلیی وزارت د انسجام لوی ریاست د تولنو چارو ریاست په پام کی لری چی د تولنی دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنستونو له کرنلاری سره سم، دکندهار ولایت دنانوایانو اتحادیه ته د فعالیت جواز ورکری دیاد جواز اخیستلو لپاره دوست محمد دګل محمد زوی دکندهار ولایت ارغنداب ولسوالی اصلی او دکندهار ولایت ۸ ناحیی فعلی اوسیدونکي د رییس او عصمت الله د عبدالرشید زوی د کندهار ولایت مرکز ولسوال اصلی او دکندهار ولایت اول ناحیی فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوی که پر یادو اشاخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لری د اعلان له نیتی څخه تر لسو ورځو پوری دعدلیی وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلی بنه وراندی کړی له یادی نیبی وروسته به نومړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږی چی دجواز دصدور له نیتی څخه د جوار ترنهایی نیتی پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری. ۹۵۰

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی شرکت برادران صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۹۵۶۱-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای احمد فرزند ظاهر بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۵۱

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی شرکت غلام سرور لمیتد یک عراده موتر پلیت ۱۲۲۴۸-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای شاه‌ولی فرزند عبدالغنی بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۵۸

## افغانستان او فلسطین ته د اسلامي همکاریو ...

نوموړي وويل چې د فلسطين اوسنی ناورين بايد له هرې وسيلې په استفادې پای ته ورسېږي او دغه هېواد خپل تېر برم ته ورستون شي. د ترکيې د بهرنيو چارو وزير هاکان فيدان په خپلو خبرو کې د فلسطين کشالې ته په نغوتې وويل چې د فلسطين قضيه يوازې کشاله نه، بلکې دا د حق داعيه ده او د نړۍ په کچه د ظالم او مظلوم مقابله ده. فيدان وويل: هېڅوک حق نه لري چې د فلسطينيانو پر وينو سوداګري وکړي. نوموړي پر اسلامي هېوادونو غږ کړی چې د فلسطين خپلواکي ومني، په ملکرو ملتونو کې يې د استقلاليت نعره پورته کړي او ډيپلوماټيکه راشه درشه ورسره پيل کړي. فيدان ياد مسايل د اسراييلو د ځينې او په ډيپلوماټيک ډګر کې د ماتونې مهمې برخې يادې کړې. فيدان په ډاګه کړه چې که ډيپلوماټيک دول د اسراييلو ماتې ناشوني وي، نو په زور دې ياد هېواد په ګونډو شي. د فيدان په قول، که اسلامي نړۍ شته اختلافونه پای ته ونه رسوي، يو موټی نه شي؛ نو د فلسطينيانو ارمانونه به خاورې شي.دغې ناستې ته د افغانستان اسلامي امارت استازی هم بلل شوی و. د اسلامي امارت له خوا د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو سازمانونو مشر او وياند عبدالقهار بلخي پکې ګډون وکړ. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت په يوه خبرپاڼه کې زياتوي چې عبدالقهار بلخي به په دغه سرمشريزې کې د ګډون تر څنګ د اسلامي همکاريو سازمان له لوړپوړو چارواکو او د غړو هېوادونو له استازو سره هم وکوري. په چين کې د اسلامي امارت لوی سفير مولوي اسدالله بلال کريمي په خپل ايکس ليکلي و، چې په دې مهمه سرمشريزه کې له رسمي ګډون څخه ښکاري، چې اسلامي امارت ژور ډيپلوماټيک پر مختګ کوي. دا رسمي بلنه د کوم هيواد په کچه نه، بلکه د يو لوی سازمان له لورې ترسره شوې او دا له نړۍ په خاص ډول اسلامي نړۍ سره په مثبتو اړيکو کې مهم ګام او تحرک دی. د اسلامي همکاريو د سازمان سر مشريزه ناستې په تړاو د چين ولسمشر شي جن پنګ هم مبارکي ويلي ده. د اسلامي همکاريو د سازمان سرمنشي حسين ابراهيم طه يادې غونډې ته په وينا کې له افغانستان سره پر تعامل ټينګار کړی دی. ښاغلي طه ويلي چې د اسلامي همکاريو د سازمان او غړي هېوادونه له افغانستان سره بشپړې ښکېلتيا ته ژمن او چمتو دي. نوموړي ټينګار وکړ چې له افغانستان سره دې مرستې له اماني صندوق په وسيله وشي. ويل کيږي چې اماني صندوق د اسلامي پراختيا د بانک تر نږدې څار لاندې دی. ښاغلي طه ويلي چې په افغانستانک کې دې د ځمکنيو واقعيتونو د درک په موخه بې پلوې شخصيتونه وټاکل شي. بل پلو، تازه په مصر کې د امريکا، قطر او مصر د استازو په منځګړيتوب غزه کې د اوربند د ټينګښت خبرې اترې هم بې پايلې پای ته رسېدلې دي. حماس په غزه کې تلپاتې اوربند غواړي خو نتانياهو ويلي چې اوربند د دوی د ماتې په مانا دی. صهيونستانو تازه رفح مېشتو ته ګوتڅنډنه کړې چې خپل کورونه پرېږدي. صهيونستو چارواکو لا پخوا ګواښ کړی چې د اوربند او جګړې دواړو صورتونو کې به پر رفح بريد کوي. د اسلامي همکاريو د سازمان (تلپاتې ټيکاو او يو موټی کېدل) په نوم ناسته د مې مياشتې په پينځمه پای ته ورسېده. شنونکو د دا او ورته ناستو چمتو کول د اسلامي هېوادونو تر منځ د همغږۍ او د اسلامي وروګلوۍ د انګېزې د پياوړتيا لپاره اړينې بولي.

**خالد افغان**

Shariat Daily

# Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0711900400
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ويب سايت:

# شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۷۱۱۹۰۰۴۰۰
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شريعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 07 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 446

# مسکو په نړیوالو ناستو کې د اسلامي امارت د دریځ ننګه کوي

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر ورمه ورځ په سپېدار ماڼۍ کې د روسیې فدراسیون له سفیر دیمیتري ژیرنوف سره کتلي او د مسکو-کابل پر دوه اړخیزو اړیکو یې بحث کړی دی.

د روسیې سفیر دیمیتري ژیرنوف وویل، روسیه په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره همکارۍ ته چمتو ده او غواړي د دواړو هېوادونو ترمنځ خپلمنځیو اړیکوته لا وده ورکړي.

نوموړي زیاته کړه، د اسلامي امارت او روسیې د دوه اړخیزو همکاریو او تعامل پراختیا د سیمې له ټیکاو او د افغانستان له اقتصادي پیاوړتیا سره مرسته کولی شي.



ښاغلي دیمیتري ژیرنوف په ډاګه کړې چې مسکو په نړیوالو ناستو کې د اسلامي امارت دریځ او نظر ته ارزښت ورکوي. نوموړي همداشان د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال ته د تاتارستان په کازان کې په جوړېدونکي نړیوالې ناسته کې د ګډون بلنه ورکړه.

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د روسیې سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ افغانستان سره د مسکو له مرستو مننه وکړه.

مولوي عبد الکبیر له مسکو څخه مننه کړې چې د تاتارستان په راتلونکې ناسته کې یې بلنه ورکړې ده. مولوي عبدالکبیر دغه راز له روسي پانګوالو غوښتي چې افغانستان کې پانګونه وکړي.

## رویدادهای خارجی

### صهیونستانو پر الجزیرې شبکې یرغل کړی

رویترز خبري اژانس د یو شمېر اسراییلي رسنیو له قوله خبر ورکړی، چې ورمه ورځ ماښام د صهیونیستي رژیم ځواکونو په بیت المقدس کې د الجزیرې ټلوېزیون پر دفتر یرغل کړی، دداه دفتر وسایل یې مات او له ځانه سره وړي دي.

د راپور پر اساس له دې مخکې د اسرائیلو پارلمان د هغو بهرنیو رسنیو د لنډمهاله تړل کېدو پرېکړه کړې وه، چې په وینا یې د تل ابیب ملي امنیت ته ګواښ پېښوي. اسراییلي چارواکو الجزیره ټلوېزوني شبکه تورنه کړې، چې د حماس مجاهدینو په ګټه خبرونو ته پوښښ ورکوي.

بل خوا بیا الجزیرې د دغه هېواد له لوري لګېدلي تورونه رد کړي او د صهیونیستي رژیم له لوري یې په دفتر برید غندلی او زیاتوي، چې دوی به په غزه کې د اشغالګر رژیم د بشریت ضد کړنې برملا کوي.

دا په داسې حال کې ده چې صهیونستانو تر دې دمخه هم په قصدي ډول غزه کې د الجزیزې په شمول د ګڼو رسنیو خبریالان په نښه کړي دي. صهیونستو بیت المقدس کې د الجزیرې شبکې د کورنۍ ګڼ غړي هم شهیدان کړي وو.

تازه ویل شوي چې په مصر کې د اوربند په تړاو مذاکرې هم لغوه شوي او صهیونستانو له مذاکراتو په شا شوي دي.

### صهیونستان:
### د رفح اوسېدونکي دې خپلې مېنې پرېږدي

صهیونستو ځواکونو د رفح اوسېدونکو ته ګواښ کړی چې ژر تر ژره دې خپلې مېنې پرېږدي. صهیونست پلان لري چې د غزې پر دغه ښار ځمکنی برید وکړي.

د اسرایلو د پوځ راډیو ویلي، چې ښایي دغه امر پر رفح ښارګوټي تر عملیاتو وړاندې ورکول شوی وي.

دا په داسې حال کې ده، چې ورمه شپه رفح ښار کې د اسرایلو د هوایي بریدونو په پایله کې ۲۲ تنه فلسطینیان شهیدان شوي دي.

رفح ښار تر یو میلیون د زیاتو فلسطینیانو مېشت ځای دی، چې د جګړې له ویرې ورغلي دي او دغې سیمه کې د عملیاتو پیل کولی شي، ډېره مرګ ژوبله رامنځته کړي.

ورته وخت کې د مصر په پلازمېنې قاهره کې د غزې د اوربند په اړه خبرې پرون پای ته رسېدلي او د رسنیو راپورنه وایي، چې د ښکېلو خواوو ترمنځ ستونزه راپورته کوونکي مسایل لا هم شته.

رفح د مصر پر پوله له لویو ښارونو ګڼل کېږي، چې مساحت یې ۵۵ مربع کیلومتره دی او له قدس نه نژدې ۱۰۷ کیلومتره لیرې سوېل لوېدیځ طرف ته پروت دی.

بل پلو، د اسرایلي رژیم صهیونست پوځ منلې، چې د غزې په کریم ابو سلیم سیمه کې د حماس غورځنګ د راکټي برید په پایله کې د دوی دري پوځیان وژل شوي دي.

حماس غورځنګ بیا ویلي، چې یاده سیمه کې یې د صهیونست اشغالګرو ځواکونو یو مرکز په نښه کړی، چې ګڼ شمېر عسکرو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.

ورته وخت کې د لبنان حزب الله ډلې ویلي، چې د اسرایلو شمال کې یې د دغه رژیم مهم پوځي ځایونه په نښه کړي دي.

### سفر غیر منتظره شی جین پنگ به اروپا

شی جین پینگ، رئیس جمهور چین در سفری که آنرا «نادر» توصیف کرده‌اند روز گذشته وارد فرانسه شد. آقای شی را در این سفر برعلاوه‌ی مقامات دولتی چین، همسرش نیز همراهی می‌کند.

صدای امریکا گزارش داده است که این سفر آقای شی جین پینگ به اروپا که از قبل اعلام نشده بود در حالی انجام شده که اختلافات میان چین و اتحادیه اروپا در مورد مسایل تجاری اوج گرفته است.

خبرگزاری اسوشیتدپرس نیز در گزارش مشابهی نوشته است که این سفر غیرمنتظره در حالی انجام شده که اختلافات میان اروپا و چین در مورد مسایل تجاری افزایش یافته است.

رئیس جمهور چین قرار است با امانویل مکرون، رئیس جمهور فرانسه و اورزلا فون درلاین، رئیس سیاست خارجه اتحادیه اروپا دیدار کند و همزمان با این صدای امریکا گزارش داده است که اولاف شولتز، صدراعظم آلمان، به دلیل آنچه که تعهدات قبلی خوانده شده است، با مکرون و شی در پاریس ملاقات نخواهد کرد.

طبق گزارش‌ها، در دیدارهای برنامه‌ریزی‌شده میان مقامات اروپایی و رئیس جمهور چین روی کاهش اختلافات میان چین و اتحادیه اروپا در خصوص مسایل تجاری و جنگ در اوکراین صحبت خواهد شد.

## توجه !

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

## اسلام کې د بشر حقونه او بیان ازادي

### له طلوع نیوز سره د یوناما د وروستي راپور په اړه د مولوي عبدالحق حماد مرکه

پوښتنه: په تېرو دوه نیمو کلونو کې نړیوال همدا یو خبره کوي چې دوی ته بشري حقونه لومړیتوب لري، د بیان ازادۍ ورته ارزښتمنه ده. یوناما په خپل درې میاشتني راپور کې همدا ټکي یاد کړي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې اسلامي امارت بشري حقونه څنګه تعریفوي؟ او د بیان د ازادۍ اسلامي اصول څه دي؟

حماد: ما د یوناما درې میاشتنی راپور وکوت او یوناما فعالیت او څار رامالوم دی. غوارم پر دواړو موضوعاتو وغږېږم. لومړی باید پوه شو چې د نړۍ زبرځواک او د لومړۍ کټګورۍ هېوادونه د نړۍ لپاره کوم ډول نظام غواړي؟ او له کمزورو ... ۲ مخ



## غزني کې یوه ښوونځي ته سرپناه جوړېږي



د غزني په جاغوري ولسوالۍ کې د ۵ میلیونو افغانیو په لګښت یوه ښوونځي ته ودانۍ جوړېږي.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسوولینو باختر اژانس ته ویلي، چې د جاغوري ولسوالۍ د اوسېدونکو په مالي ملاتړ د ۵ میلیونو افغانیو په لګښت د حیدر لیسې لپاره د یوې دوه پوړیزې ودانۍ د جوړولو چارې پیل شوې دي.

سرچینې زیاته کړې، چې یاده ودانۍ به ۱۳ اداري او درسي خونې او نورې اسانتیاوې ولري.

### وزارت شهدا و معلولین:
## پرداخت بیش از ۱۱ میلیارد افغانی برای وارثین شهدا و معلولین در سال گذشته

**شریعت:** افغانستان در چندین دهه جنگ قربانی های بی شمار داده و این جنگ ها تعداد زیادی پدران و مادران را بی فرزند، خانم ها را بی شوهر، جوانان و اطفال را بی پدر و مادر کرده و جمع کثیری از ورثه شهدا، بیوه ها، معلول و معیوب را بجا مانده است که مسؤلیت عمده رسید گی به آنان را وزارت شهدا و معلولین بر عهده دارد.




**گل محمد باشنده ولایت کندز که در سال ۱۳۶۴ به اثر انفجار ماین یک پای خود را از دست داده می گوید:** «پای خود را در زمان روس ها در نتیجه انفجار ماین از دست دادم، قبلاً پاکستان بودم و چندین سال است که حقوق معلولیت ام را می گیرم پروسه ... ص۳

## کشف و حریق یک کارخانه مواد مخدر در نیمروز



مسؤلان مدیریت مبارزه با مواد مخدر نیمروز از کشف کارخانه تولید مواد مخدر در مربوطات این ولایت خبر داده‌اند.

خبرگزاری باختر به نقل از مدیریت مبارزه با مواد مخدر نیمروز گزارش داده است که مسؤلان این ولایت یک کارخانه که گفته می شود در آن مواد مخدر تولید می شد کشف کردند.

به گفته مسؤلان این اداره این کارخانه تولیدی در ساحه کولشی از مربوطات ولسوالی دلارام ولایت نیمروز کشف شده است. مسؤلان این ولایت تصریح می کنند که این کارخانه تولیدی پس از کشف حریق شده است. این درحالی است که پس از روی کار آمدن مجدد امارت اسلامی به افغانستان در ۱۵ آگست سال ۲۰۲۱ امیرالمؤمنین حفظه الله، رهبر امارت اسلامی در فرمانی کشت کوکنار و تولید مواد مخدر را در سرتاسر کشور ممنوع اعلام کرده بود.

## توزیع تخم های اصلاح شده وکود کیمیایی برای صدها دهقان دربدخشان

صدها دهقان دربدخشان، تخم های اصلاح شده ی بذری و کود کیمیایی دریافت کردند.

این کمک ها را، نهاد میشن ایست، درهماهنگی ریاست زراعت بدخشان، توزیع کرد.

قاری قطب الدین «دهنوی» رئیس زراعت بدخشان به ... ص۳



## دیدار هیأت ترکمنستانی از مصلای تاریخی هرات



هیأت ترکمنستانی همراه با مولوی احمدالله متقی، رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات و دیگر مسئولین این اداره از مجموعه‌ی تاریخی (مصلای هرات) دیدن کرد.

در این دیدار مولوی احمدالله متقی، با بیان مشترکات تاریخی و فرهنگی دو کشور افغانستان و ترکمنستان گفت که ازحکم‌روایی ... ص۳